# رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرضي لمانځه په پاي کې دا ذکر کاوه

د مغیره ابن شعبه له کاتب وَرَّاد څخه روایت دی وایي چې: مغیره بن شعبه راباندې هغه لیک ولیکه چې معاویه ته یې لیږه چې: رسول الله صلى الله علیه وسلم به د هر فرضي لمانځه په پاي کې دا ذکر کاوه : «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ». یعنې له الله تعالی پرته بل معبود بر حق نشته، هغه یو دی، شریک نلري، هغه لره (د کائناتو) پاچاهي او پوره غوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، اې الله ! ته چې (چا ته ) څه ورکوې، د هغه څوک مانع بندوونکی نشته، او ته چې (له چا نه) څه بند کړې، د هغه څوک ورکوونکی نشته، او (فائده نه کوي مالدار لره د هغه مال ستا د عذاب (په لرې کولو کې).

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم به د هر فرض لمانځه څخه وروسته دا دعا ویله: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ». یعنې: د توحید په کلمې؛ لا اِله اِلا الله، اقرار او اعتراف کوم، حق عبادت الله تعالی ته ثابتوم، او له هغه پرته یې له نورو څخه نفي کوم، نو له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او پدې اقرار کوونکی یم چې حقیقي او بشپړه پادشاهي یوازې الله لره ده، او الله تعالی د ځمکې او آسمانونو د خلکو د ستاینې مستحق دی، هغه پر هر څه ځواک لري، او هغه څه چې الله تعالی له ورکړې او یا منع کولو څخه مقدر کړې وي، منع کوونکی یې نشته، او د هغه په وړاندې د مالدار مالداري ګټه نه لري، بلکې یوازې نیک عمل ورته ګټه رسوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65102

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee